DTM
AFGHANISTAN

# د تحرکاتو بنسټیزه ارزونه

بادغیس
د پایلي لنډیز
اوم پړاو . اکټوبر - ډسمبر ۲۰۱۸



بادغیس ولایت د سیلاب او کړکیچ لـه املـه ډیـر زیانمـن شـوی چې پـه پایله کـې د افغانسـتان په کچـه د رارسـېدلي داخلي بېځایه شـویو او هغـو داخلي بېځایـه شـویو لـوړه کچـه لـري چې خپلې سـیمې یـې پریښـي. دا انځور د ولایت پـه مرکز، قلعه نو ولسـوالۍ کې اخیسـتل شـوی چـې دې ولسـوالی کـې ډېـرى وګـړي پـه خیمو کـې ژوند کوي و د ښـاک اوبـو ته محدود لاسرسـی لـري. © IOM ۲۰۱۸

## د بېځایه کېدوونکو د تعقیب سیستم (DTM)

د بېځایـه کېدوونکـو د تعقیـب سیسـتم داسـې یو سیسـتم دی چـې د خلکـو د بېځایه کېدنې او تحـرک لـه بهیـر څخـه تعقیـب او څارنه کوي. دا سیسـتم په سیسـتماټیک ډول د معلوماتو راټولولـو، پراسـس کولـو او خپرولـو لپـاره جوړ شـوی ترڅو وکـولای شي د تحرکاتو او په سـیمه او یـا لاره کـې د بېځایـه شـویو خلکـو هغـه اړتیـاوو پـه هکلـه چې د بدلـون په حـال کې دي ښـه پوهـاوی منځ تـه راولي. د DTM په اړه د لا زیاتو معلوماتـو لپاره www.displacement.iom.int/afghanistan څخـه کتنه وکړئ.

پـه افغانسـتان کـې، DTM د تحـرک د ارزونې بنسـټیزه وسـیله کاروي ترڅـو د تحرکاتو څخه څارنـه، د جبري بېځایـه شـویو کسـانو د نفـوس کچـه او موقعیـت تشـخیص، د بېځایـه کیـدو علـت، اصلـی سـیمې، د بېځایـه کېدو مهـال، لومـړني ډیموګرافیکـي معلومـات، زیانمنتیاوې او د اړتیـاوو د لومړیتوبونـو څخـه څارنـه وکـړي. معلومـات د کلیـو پـه کچه د ډله ایـزو بحثونو، مخامـخ کتنـو او کلیـدي معلومـاتـو ورکوونکـو سره د مرکـې لـه لارې راټولېږي.

DTM پروګـرام، د کډوالـۍ نړیـوال سـازمان او ملګـري سـازمانونو تـه دا پیاوړتیـا ورکـوي چـې سرچینـې پـه اعظمـي توګـه لـوړې کـړي او لومړیتوبونـه وټاکـي ترڅـو د شـواهدو پـر بنسـټ هدفمند، دوامداره او د حرکت پر وړاندې د پایدارو او حساسـو بشردوسـتانه مرسـتو پروګرامونه وړانـدې کـړي او د ټولنـې د بیـا یوځـای کېدنـې، ثبـات او پراختیـا څخـه ډاډ ترلاسـه شي.

## ۵ د موخي وړ جمعیتونه

DTM د تحرکاتـو بنسـټیزې ارزونې له لارې د لاندې ۵ اسـاسي جمعیتونـو کټګوریو موقعیت، نفـوس او څو سـکتوریزې اړتیاوې څاري:

۱. بهرنیو هېوادونو څخه راستنېدونکي

هغه افغانان چې لږ تر لږه د ۶ میاشتو لپاره د هیواد څخه بهر اوسېدلي وي او اوس راستانه شوي وي

۲. بهرنیو هېوادونو ته کډوال شوي کسان

هغه افغانان چې بهرنیو هېوادونو ته تللي او یا کډه یې کړې وي

داخلي بېځایه شوي په لاندې درېو کټګوریو وېشل شوي دي:

۳. داخلي بېځایه شوي چې خپلې اصلي سیمې یې پرېښې

د ارزول شـویو کلیـو څخـه هغـه افغانـان چـې د داخـلي بېځایه شـویو په توګه یې خپلې سـیمې پرېښـې ترڅـو د افغانسـتان دننـه پـه یوې بلې سـیمې کـې ژوند وکړي

۴. رارسېدلي داخلي بېځایه شوي کسان

د نورو سیمو څخه داخلي بېځایه شوي کسان چې اوسمهال په یوه ارزول شوي کلي کې ژوند کوي

۵. راستانه شوي داخلي بېځایه شوي کسان

هغـه افغانـان چـې د ارزول شـویو کلیـو څخـه پخوا د داخـلي بېځایه شـویو په توګه تـلـلي ول او اوسـمهال خپلـو کورونو ته بېرته سـتانه شـوي دي

۵ د موخـې وړ جمعیتونـو لپـاره د نفـوس د کچـې معلومـات د هغـوی د بېځایـه کېدنـې پـر مهـال د دې زمـاني جوړښـت پـر بنسـټ راټولېـږي: ۲۰۱۲-۲۰۱۵ . ۲۰۱۶ . ۲۰۱۷ . ۲۰۱۸

## لنډه کتنه

**۶** ولسوالۍ وارزول شوې
**۲۴۸** کلي وارزول شول

**۱،۴۳۹**
کلیدي معلومات ورکوونکو سره مرکه ترسره شوه

**۹۳،۱۲۶**
بهرنیو هېوادونو څخه راستنېدونکي [۲۰۱۲-۲۰۱۸]

**۲۷۰،۲۸۳**
داخلي بېځایه شوي کسان په کوربه ټولنو کې ژوند کوي [۲۰۱۲-۲۰۱۸]

**۴۱،۶۷۹**
پخواني داخلي بېځایه شوي کسان اوس خپلو سیمو ته بېرته ستانه شوي[۲۰۱۲-۲۰۱۸]

**۱۰۱،۳۵۹**
کسان د هېواد څخه بهر ته کډوال شوي [۲۰۱۲-۲۰۱۸]

**۵،۸۱۹**
کسان اروپایي هېوادونو ته کډوال شوي (د ټولټال کډوالو له ډلې ۶٪)

**۱۶۲،۴۴۱**
راستنیدونکي او داخلي بېځایه شوي په خېمو او یا آزاده فضا کې ژوند کوي – بادغیس ولایت د هېواد په کچه پناه ځای ته تر ټولو نورو ولایاتو ډېره اړتیا لري

**۱۶۱،۹۸۳**
کسان په دې ولایت کې د څښاک اوبو ته هېڅ لاسرسی نلري – بادغیس ولایت د هېواد په کچه د څښاک اوبو ته تر ټولو نورو ولایتو ډېره اړتیا لري

**۱۲،۰۶۷**
کسان په آبکمري ولسوالۍ کې روغتیایي خدماتو ته اړتیا لري (۵۷٪)

**۱۳،۲۲۶**
۶۲٪ کسان په آبکمري ولسوالۍ کې بازارونو ته هېڅ لاسرسی نلري

**۳ څخه ۱**
کورنۍ په بالامرغاب ولسوالۍ کې ښوونځیو ته هېڅ اړتیا نلري (۳۲٪)

**۴ څخه ۳**
په بادغیس ولایت کې ۷۲٪ راستنېدونکي او داخلي بېځایه شوي په قلعه نو ولسوالۍ کې ژوند کوي – قلعه نو ولسوالۍ د ولایت په کچه دومه ولسوالۍ ده چې تر ټولو زیات راستنېدونکي او داخلي بېځایه شوي لري

## په ټولو ۵ د موخې وړ جمعیتونو کې بېځایه شوي کسان | د ولسوالیو په کچه لنډه کتنه

| ولسوالۍ | * مجموعي نفوس | ټولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + رارسېدلي داخلي بېځایه شوي) | د نفوس سلنه | له بهرنیو هېوادونو څخه راستنېدونکي | د نفوس سلنه | داخلي بېځایه شوي چې خپلې اصلي سیمې یې پرېښې | د نفوس سلنه | رارسېدلي داخلي بېځایه شوي کسان | د نفوس سلنه | راستانه شوي داخلي بېځایه شوي کسان | د نفوس سلنه | بهرنیو هېوادونو ته کډوال شوي کسان | د نفوس سلنه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| قلعه نو | ۷۲,۶۱۹ | ۲۶۰,۵۳۷ | ٪۷۸ | ۲۶,۹۲۳ | ٪۸ | ۹,۷۴۸ | ٪۱۳ | ۲۳۳,۶۱۴ | ٪۷۰ | ۹,۰۳۸ | ٪۱۲ | ۱۴,۵۲۳ | ٪۲۰ |
| مقر | ۲۵,۹۱۹ | ۱۸,۲۰۰ | ٪۴۱ | ۱۰,۵۸۷ | ٪۲۴ | ۱۴,۵۱۹ | ٪۵۶ | ۷,۶۱۳ | ٪۱۷ | ۷,۱۵۵ | ٪۲۸ | ۱۶,۱۶۶ | ٪۶۲ |
| آب کمري | ۸۰,۳۲۵ | ۲۱,۲۵۴ | ٪۲۱ | ۱۳,۸۷۱ | ٪۱۴ | ۲۰,۵۱۵ | ٪۲۶ | ۷,۳۸۳ | ٪۷ | ۴,۹۶۲ | ٪۶ | ۲۲,۴۳۷ | ٪۲۸ |
| قادس | ۹۹,۳۱۶ | ۲۵,۱۱۰ | ٪۲۰ | ۱۶,۹۳۷ | ٪۱۴ | ۱۵,۷۶۹ | ٪۱۶ | ۸,۱۷۳ | ٪۷ | ۵,۳۶۷ | ٪۵ | ۷,۵۱۷ | ٪۸ |
| جوند | ۸۶,۱۰۰ | ۱۱,۹۱۵ | ٪۱۲ | ۸,۵۹۶ | ٪۹ | ۶,۰۳۶ | ٪۷ | ۳,۳۱۹ | ٪۳ | ۵,۰۴۰ | ٪۶ | ۳,۶۴۹ | ٪۴ |
| بالا مرغاب | ۱۰۶,۱۱۶ | ۲۶,۳۹۲ | ٪۲۰ | ۱۶,۲۱۲ | ٪۱۲ | ۵۳,۷۹۱ | ٪۵۱ | ۱۰,۱۸۰ | ٪۸ | ۱۰,۱۱۷ | ٪۱۰ | ۳۷,۰۶۷ | ٪۳۵ |
| مجموعه | ۵۳۰,۵۷۴ | ۳۶۳,۴۰۸ | ٪۴۱ | ۹۳,۱۲۶ | ٪۱۰ | ۱۲۰,۳۷۸ | ٪۲۳ | ۲۷۰,۲۸۲ | ٪۳۰ | ۴۱,۶۷۹ | ٪۸ | ۱۰۱,۳۵۹ | ٪۱۹ |

* د نفوسو معلوماتي سرچینه: د ۱۳۹۷ (۲۰۱۸ – ۲۰۱۹) کال په اړه د احصائیې او معلوماتو ملي اداريې *(NSIA)* اټکل    سیمبولوجي: د موخې وړ جمعیت ≤ ۲۰۰,۰۰۰    د نفوس سلنه ≤ ۲۵٪

** په بادغیس ولایت کې د ۷ ولسوالیو له جملې یوازې ۶ ولسوالۍ د لاسرسۍ وړ وې او ارزول شوي دي نو ځکه د پورتنیو ۶ ولسوالیو مجموعه د بادغیس ولایت مجموعي نفوس سره چې په پورتني جدول کې لیکل شوې یوشان نده.



د بادغیس ولایت د ۲۰۱۸ کال شدیدې وچکالۍ وروسته شدید بارانونه او سیلابونه رامنځ ته شول چې په پایله کې یې کورونه خراب شول، نباتات، پټي او د معیشت فرصتونه له منځه ولاړل. دا کرنیز فارم او ونې هم د شدید سیلاب له امله د بادغیس ولایت، بالا مرغاب ولسوالۍ په اکازی سیمه کې له منځه تللي. © IOM ۲۰۱۸

## تکلار

د بېځایه کېدوونکو د تعقیب سیستم د تحرکاتو بنسټیزې ارزونې اصلي موخه په افغانستان کې د تحرکاتو او بېځایه کېدنې تعقیب ده ترڅو وکولای شي د بېځایه کېدوونکو، راستنېدونکو، کډوالو، پناه غوښتونکو، مرزي قبیله وي ډلو، کوچیانو او نړیوالو کارګرانو د نفوس، موقعیت او جغرافیاوي تقسیماتو په هکله اټکلونه وکړي. سربېره پر دې DTM د تحرکاتو په اړه نور معلومات هم راټولوي چې په دې معلوماتو کې د بېځایه کېدنې او راستنېدو لاملونه، اصلي او د موخې سیمې، د بېځایه کېدنې او راستنېدو مهال، بیاځلي بېځایه کېدنه، د جمعیتونو شمېر، د زیانمنتیا کچه او اولیه اړتیاوې شاملېږي.

DTM په عمده ډول د یوې سیمې د ارزونې لپاره د هماغې سیمې وګړي د سیمه ایزو کارکوونکو په توګه په کار ګماري. دا کارکوونکي له کلیدي معلومات ورکوونکو سره د ډله ایزو بحثونو له لارې د کلیو په کچه کمیتې معلومات راټولوي. سیمه ایز کارکوونکي د مستقیمو کتنو له لارې هم د ژوند شرایط، لومړني خدمات، امنیت او ټولنیز-اقتصادي حالت په اړه کیفي معلومات راټولوي.

د امنیتي خطرونو له امله سیمه ایز کارکوونکي نشي کولای سیمې ته سمارټ ټیلیفونونه یا ټابلیټونه انتقال کړي له همدې امله دوی هره ورځ د یوې کاغذي فورمې په وسیله معلومات راټولوي. په دې فورمه کې د تېر پړاو راټول شوي معلومات هم شتون لري ترڅو د موجوده معلوماتو له شتون څخه تایید وشي او د ارزونې پروسه په ګړندیتوب سره پر مخ ولاړه شي. بشپړې شوې فورمې هره اونۍ د DTM ولایتي دفتر ته سپارل کېږي ترڅو د ټیم مشر او د معلوماتو راجسټر کوونکي له لوري تري کتنه او تصویب وشي. کله چې دا فورمې تایید شوې نو د موبایلونو په مرسته په الکترونکي توګه د کوبو فورمونو له کارولو سره په مستقیم ډول د DTM مرکزي SQL کې چې په کابل کې ده ځای پرځای کېږي. وروسته بیا دا ډېټا یا معلومات هم په اتومات او هم په انفرادي توګه هره ورځ تصفیه او تایید کېږي. دا دقیقه بیاکتنه ډاډ ترلاسه کوي چې د DTM ډېټا ترټولو لوړ کیفیت، دقت او صداقت ولري.

کله چې DTM د لومړي ځل لپاره په یو ولایت کې ارزونه ترسره کوي نو ساحوي کارکوونکي معلومات یا ډېټا په دوه پړاونو کې چې دوه دوه برخې لري راټولوي:

۱. د ولسوالۍ په کچه ارزونه (B1): د دې ارزونې موخه د هغو کلیو پېژندنه ده چې ترټولو زیات افغان وګړي ورته تللي او یا ترې وتلي وي او د موخې ډېر جمعیتونو شمېر په هکله اټکل کوي.

۲. د کلیو په کچه ارزونه (B2): دا ارزونه د B1 ارزونې د پایلو پر بنسټ د راغلیو او وتلیو افغان وګړو په اړه د موخې ډېر جمعیتونو لپاره په هغو کلیو کې معلومات راټولوي چې د B1 په ارزونه کې پېژندل شوي ول. د کلیدي معلومات ورکوونکو د راجع کولو وروسته نوي کلي هم تشخیص او ارزول کېږي.

څکه چې DTM ټول ۳۴ ولایتونه ارزولي دي په راتلونکي کې به یوازې د کلیو په کچه ارزونې ترسره شي. DTM په پام کې لري چې په کال کې به دوه ځلې د هېواد په کچه د تحرکاتو بنسټیزې ارزونې ترسره کړي چې دا کار د بودجې د دوام پورې اړوند دی.

## کلیدي معلومات ورکوونکي

د DTM ساحوي کارکوونکي د کلیو په کچه معلومات له کلیدي معلومات ورکوونکو څخه د ډله ایزو بحثونو له لارې راټولوي. ساحوي کارکوونکي د ټولنې د ارزونې پر مهال د ژوندانه شرایط او د خوسکټوریزو خدمتونو شتون هم ارزوي. په لږو مواردو کې داسې کېږي چې د امنیتي اندېښنو او یا د دولت د مخالفینو ډلو د بریدونو له امله، د DTM سیمه ایز کارکوونکي نشي کولای سیمې ته ولاړ شي نو هغوی غونډې او ډله ایز بحثونه د کلیو څخه بهر یا په خوندي سیمو کې ترسره کوي او یا هم ارزونې د موبایل له لارې مخکې وړي.

DTM پروګرام په فعاله توګه وکولای شو د ښځینه کارکوونکو له ګمارلو سره په ډله ایزو بحثونو کې د جندر د شمولیت د لا ښه کولو لپاره لوی ګام واخلي، که څه هم دا یو ننګونکی کار وه. سره له دې اوس هم پرمختګ ته اړتیا شته. که څه هم په بادغیس ولایت کې د کلیدي معلوماتو ورکوونکو له ډلې څخه یوازې ۵٪ یې ښځې دي خو دا شمېر د ۲۰۱۷ کال مارچ میاشتې د هېواد د کچې ښځینه کلیدي معلومات ورکوونکو شمېر (۰.۱٪) په پرتله پرمختګ ښیي.

**۱،۴۳۹**
کلیدي معلومات ورکوونکو سره مرکه ترسره شوه

**۱۳۷**
کلیدي معلومات ورکوونکي یا راستنیدونکي دي او یا هم داخلي بېځایه شوي (۱۰٪)

**۷۲**
ښځینه کلیدي معلومات ورکوونکي (۵٪)

**۳۶۰**
له کوربه ټولنو څخه کلیدي معلومات ورکوونکي (۲۵٪)


**۱،۳۶۷**
نارینه کلیدي معلومات ورکوونکي (۹۵٪)

**۳۰۴**
څو سکټوریزو او ټولنیزو خدماتو څخه کلیدي معلومات ورکوونکي (۲۱٪)


**۵,۸**
په هرې ډله ایزې مرکې کې د کلیدي معلومات ورکوونکو اوسط شمېر

**۴۱۲**
له سیمه ایزو چارواکو څخه کلیدي معلومات ورکوونکي (۲۹٪)

د ډول پر بنسټ کلیدي معلومات ورکوونکي | بادغیس




د ډول او جنسیت پر بنسټ کلیدي معلومات ورکوونکي | بادغیس



## بهرنیو هېوادونو څخه راستنېدونکي

راستنېدونکي هغه افغانان دي چې په بهرنیو هېوادونو کې لږترلږه د شپږو میاشتو تېرولو وروسته بېرته افغانستان ته ستانه شوي او په ارزول شویو سیمو کې ځای پر ځای شوي وي. راستنېدونکي دوه ډوله دي: اسناد لرونکي راستنېدونکي (هغه کډوال چې په کوربه هېوادونو کې راجستر شوي وي او وروسته بیا UNHCR او اړوند حکومتي چاراواکو ته یې د رضاکارانه راستنېدلو غوښتنه کړې وي) او اسناد نلرونکي راستنېدونکي (هغه افغانان چې په خپله خوښه راستانه شوي او یا شړل شوي دي، پرته له دې چې دا په پام کې ولرو چې له UNHCR او اړوند حکومتي چاراواکو سره ثبت ول او که نه).

بهرنیو هېوادونو څخه بادغیس ولایت ته د راستنېدونکو شمېر د ۲۰۱۲-۲۰۱۵ دورې په پرتله په ۲۰۱۶ کال کې ۴۳٪ کموالی ښیي خو په ۲۰۱۷ کال کې ۲۳٪ زیاتوالی او په ۲۰۱۸ کال کې ۳٪ کموالی ښیي.

**۹۳,۱۲۶**
بهرنیو هېوادونو څخه راستنېدونکي


**۱۸,۰۴۴**
پاکستان څخه راستنېدونکي (۱۹٪)


**۷۲,۲۳۹**
له ایران + پاکستان څخه اسناد نلرونکي راستنېدونکي (۸۳٪)


**۶۹,۱۰۸**
ایران څخه راستنېدونکي (۷۴٪)


**۱۴,۹۱۳**
له ایران + پاکستان څخه اسناد لرونکي راستنېدونکي (۱۷٪)


**۵,۹۷۴**
غیر ګاونډیو هېوادونو څخه راستنېدونکي (۶٪)




# رارسېدلي داخلي بېځايه شوي کسان

دا کسان هغه افغانان دي چې د نا امنۍ يا وسله والو جګړو، تاوتريخوالۍ، د بشري حقونو سرغړونې، د خونديتوب انديښنې او د طبيعي پېښو يا د انسان په لاس جوړې شويو پېښو څخه د خونديتوب په موخه خپلو سيمو څخه بېځايه شوي دي او ارزول شوېو/ کوربه ټولنو ته تللي او هلته ژوند کوي.

**۲۷۰،۲۸۲**
په کوربه ټولنو کې مېشت داخلي بېځايه شوي کسان


**۲۷٪**
د کړکېچ له امله بېځايه شوي


**۲۳۳،۶۱۴**
قلعه نو ولسوالۍ کې مېشت داخلي بېځايه شوي کسان – د ولايت په کچه تر ټولو لوړ شمېر


**۷۳٪**
د طبيعي پېښو له امله بېځايه شوي


**۲،۸۰۰**
داخلي بېځايه شوي په غير رسمي سيمو کې مېشت دي (۱٪)


**۹۶٪**
په خپل اصلي ولايت کې بېځايه شوي







# ټولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + رارسېدلي داخلي بېځایه شوي)





پـه عمومـي توګـه بادغیـس ولایـت لـه ټولټـال ۳۶۳،۴۰۸ راسـتنېدونکو او داخـلي بېځايـه شـويو څخـه کوربه تـوب کوي چې ۲۶٪ (۹۳،۱۲۶ کسـان) راسـتنېدونکي او ۷۴٪ (۲۷۰،۲۸۲ کسـان) داخـلي بېځایـه شـوي دي. پـه لانديې جدول کـې د بادغیس ولایت ۲۰ کلي ښـودل شـوي چـې ترټولـو زیاتـو بېځایه شـویو او راسـتنېدونکو راتـګ څخه اغیزمن شـوي. دا ۲۰ کلي (د بادغیس ولایت ۲۴۸ ارزول شـویو کلیو څخـه ۸٪) د ټول ولایت ۷۰٪ راسـتنېدونکو او داخـلي بېځایـه شـویو څخـه کوربـه تـوب کـوي. دا کلي د ټولنـو بـې ثباتـۍ پـر وړاندې چـې د راسـتنېدونکو او داخـلي بېځایـه شـویو لـوړ شـمېر راتـګ سره رامنـځ تـه شـوي حسـاس او زیانمـن دي او دا کار لـه پخوا نه محدودې شـوي سرچینـې او کاري فرصتونو لا نـور هـم محـدود کـوي. لـه دې ۲۰ زیانمنـو کلیو څخـه ۱۸ کلي يې پـه قلعه نو ولسـوالۍ کـې موقعیـت لـري او د دې جدول ۹۸٪ (۲۴۹،۵۲۴) راسـتنېدونکو او داخلي بېځايه شـويو څخـه کوربه تـوب کوي.

## ۲۰ لومړني کلي چې تر ټولو زیات راستنېدونکي او داخلی بېځایه شوي لري


| رده بندی | کلي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|---|
| ۱ | بغلار سرمیدان | قلعه نو | ۸۲,۱۵۹ |
| ۲ | جر خشک | قلعه نو | ۴۱,۵۲۹ |
| ۳ | حاجي آباد | قلعه نو | ۳۷,۴۶۵ |
| ۴ | حاجي محمد رحیم | قلعه نو | ۱۲,۵۹۰ |
| ۵ | ریس شرف | قلعه نو | ۱۲,۳۹۴ |
| ۶ | قادیس آباد | قلعه نو | ۱۰,۸۹۵ |
| ۷ | ریس شرف بالا مالا | قلعه نو | ۸,۶۵۸ |
| ۸ | ارباب عبدالحی | قلعه نو | ۸,۶۲۴ |
| ۹ | جر حاجي ولي آباد | قلعه نو | ۶,۰۸۰ |
| ۱۰ | درویشي احمدي | قلعه نو | ۵,۴۲۸ |
| ۱۱ | ده سرخک پایین | قلعه نو | ۴,۱۹۱ |
| ۱۲ | پای زیارت | قلعه نو | ۳,۶۰۸ |
| ۱۳ | محمد زی ها | قلعه نو | ۳,۴۶۵ |
| ۱۴ | دره بوم بالا | قادس | ۳,۳۸۴ |
| ۱۵ | بالا شهر | قلعه نو | ۳,۱۷۱ |
| ۱۶ | مسجد جامع | قلعه نو | ۲,۴۸۶ |
| ۱۷ | چاه کرآن | قلعه نو | ۲,۳۹۹ |
| ۱۸ | چکر اولیا | قلعه نو | ۲,۲۰۶ |
| ۱۹ | نوآباد عرب مقصود | قادس | ۲,۱۹۶ |
| ۲۰ | کلان زای | قلعه نو | ۲,۱۷۶ |
| | | مجموعه | ۲۵۵,۱۰۴ |

## ټولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + داخلي بېځایه شوي) د ولسوالۍ پر بنسټ لنډیز

| ولسوالۍ | راستنېدونکي | رارسېدلي داخلي بېځایه شوي | ټولټال راغلي کسان |
|---|---|---|---|
| قلعه نو | ۲۶,۹۲۳ | ۲۳۳,۶۱۴ | ۲۶۰,۵۳۷ |
| بالا مرغاب | ۱۶,۲۱۲ | ۱۰,۱۸۰ | ۲۶,۳۹۲ |
| قادس | ۱۶,۹۳۷ | ۸,۱۷۳ | ۲۵,۱۱۰ |
| آب کمري | ۱۳,۸۷۱ | ۷,۳۸۳ | ۲۱,۲۵۴ |
| مقر | ۱۰,۵۸۷ | ۷,۶۱۳ | ۱۸,۲۰۰ |
| جوند | ۸,۵۹۶ | ۳,۳۱۹ | ۱۱,۹۱۵ |
| عمومي مجموعه | ۹۳,۱۲۶ | ۲۷۰,۲۸۲ | ۳۶۳,۴۰۸ |



د ولسوالۍ پر بنسټ تولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + راستېدلي داخلي بېځایه شوي)



د راستنېدونکو د موخې ور ولسوالۍ ګانې

# داخلي بېځايه شوي چي خپلي اصلي سيمي يې پرېښي


دا هغه افغانان دي چې لـه يـوې ارزول شـوې سـيمې څخـه چـې هلته يـې پخوا ژونـد کاوه د افغانسـتان دننـه يـوې بلـې سـيمې ته تلـلي دي تر څو د وسـله والـو جګـړو، تاوتريخوالي، د بـشري حقونـو سرغړونـې، د خونديتوب اندېښـنې او طبيعي پېښـو يا د انسان پـه لاس جوړو شـويو پېښـو څخه خوندي ووسي.


**۱۲۰،۳۷۸** داخلي بېځايه شوي چې خپلې اصلي سيمې يې پرېښي


**۴۷٪** په عين ولايت کې نورو سيمو ته تللي دي

**۴۵٪** د کړکېچ له امله بېځايه شوي

**۵۵٪** د طبيعي پېښو له امله بېځايه شوي



د هغو داخلي بېځايه شويو اصلي ولسوالۍ کانې چې خپلې اصلي سيمې يې پرېښي

# راستانه شوي داخلي بېځايه شوي کسان

راستانه شوي داخلي بېځايه شوي هغه افغانان دي چې خپلو سيمو ته چې ارزول شوې سيمې دي او پخوا يې پرېښې وې بېرته ستانه شوي دي. دوی پخوا له دې سيمو څخه تللي ول ترڅو د وسلوالو جګړو، تاوتريخوالي، د بشري حقونو سرغړونې، د خونديتوب انديښنې او طبيعي پېښو يا د انسان په لاس جوړ شويو پېښو له اغېزو څخه خوندي ووسي.


**۴۱،۶۷۹**
راستانه شوي داخلي بېځايه شوي

**۵۱٪**
وګړي د ولايت دننه نورو سيمو څخه راستانه شوي


**۲ څخه ۳**
پخواني داخلي بېځايه شوي يوازې ۳ ولسواليو ته ستانه شوي: بالا مرغاب، قلعه نو او مقر (۶۳٪)


**۱ څخه ۴**
د ټولو راستانه شويو داخلي بېځايه شويو له ډلې ۲۴٪ کسان بالا مرغاب ولسوالۍ ته راستانه شوي

د ولسوالۍ پر بنسټ راستانه شوي داخلي بېځايه شوي کسان | بادغيس




راستانه شوي داخلي بېځايه شوي کسان | کلنی بهير | بادغيس




د راستانه شويو داخلي بېځايه شويو د راستنېدو ولسوالۍ ګانې

# بهرنیو هېوادونو ته کډوال شوي کسان

دا هغه افغانان دي چې له یوې ارزول شوې سیمې څخه د هر دلیل، عامل او یا مودې لپاره له هېواد څخه بهر تللي او یا کډوال شوي دي. په دې کټګورۍ کې پناه غوښتونکي، بېځایه شوي، کډوال او هغه کسان شاملېږي چې افغانستان یې د اقتصادي ستونزو له امله پرېښی وي.


**۱۰۱،۳۵۹**
د هېواد څخه بهر تللي دي

**۵,۸۱۹**
اروپایي هېوادونو ته تللي دي (۶٪)


**۷۴،۰۴۳**
ایران ته تللي دي (۷۳٪)

**۲۱,۲۵۵**
پاکستان ته تللي دي (۲۱٪)


بهرنیو هېوادونو ته کډوال شوي کسان | کلنی بهیر | بادغیس





ترکیه او اروپایي هېوادونو ته کډوال شوي کسان | کلنی بهیر | بادغیس





ایران ته کډوال شوي کسان | کلنی بهیر | بادغیس





پاکستان ته کډوال شوي کسان | کلنی بهیر | بادغیس




د ولسوالۍ پر بنسټ بهرنیو هېوادونو ته کډوال شوي کسان | بادغیس




د هېواد پر بنسټ بهرنیو هېوادونو ته کډوال شوي کسان/د موخې سیمه | بادغیس



# سکټوریزې اړتیاوې

## ۵ لومړیتوب لرونکي ولسوالۍ

مرستو او لومړنیو خدمتونو لپاره د شواهدو پر بنسټ لومړیتوب ورکول اړین دي. DTM د ولایت، ولسوالۍ او کلیو په کچه، د څو شاخصه سکټورونو پر بنسټ همکارو سازمانونو ته د لومړیتوب لرونکو سیمو یا د هغو سیمو لسټ چمتو کوي چې ترټولو زیات مرستو ته اړتیا لري.

(یادښت: د هغو کسانو شمیر چې لاندې یې راپور ورکړ شوی د ټولټال راغلیو کسانو (داخلي بېځایه شوي+ راستنېدونکي) پر بنسټ دی).

### پنځه لومړنۍ ولسوالۍ چې تر ټولو زیات راستنېدونکي او داخلي بېځایه شوي لري (راستنېدونکي + داخلي بېځایه شوي)

| درجه بندي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|
| ۱ | قلعه نو | ۲۶۰,۵۳۷ |
| ۲ | بالا مرغاب | ۲۶,۳۹۲ |
| ۳ | قادس | ۲۵,۱۱۰ |
| ۴ | آب کمری | ۲۱,۲۵۴ |
| ۵ | مقر | ۱۸,۲۰۰ |
| عمومي مجموعه | | ۳۵۱,۴۹۳ |

### پنځه لومړنۍ ولسوالۍ چې پناه ځای ته اړتیا لري (راستنېدونکي+داخلي بېځایه شوي چې په خیمو او آزاده فضا کې ژوند کوي)

| درجه بندي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|
| ۱ | قلعه نو | ۱۵۸,۳۵۹ |
| ۲ | آب کمری | ۱,۶۴۴ |
| ۳ | مقر | ۱,۲۲۲ |
| ۴ | بالا مرغاب | ۱,۰۳۴ |
| ۵ | قادس | ۱۷۰ |
| عمومي مجموعه | | ۱۶۲,۴۳۰ |

### پنځه لومړنۍ ولسوالۍ چې د څښاک اوبو ته اړتیا لري (د څښاک اوبه > ۳ کیلومتره لرې)

| درجه بندي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|
| ۱ | قلعه نو | ۱۲۷,۶۹۶ |
| ۲ | مقر | ۱۲,۵۷۰ |
| ۳ | آب کمری | ۱۱,۰۲۶ |
| ۴ | جوند | ۴,۳۹۳ |
| ۵ | قادس | ۴,۰۵۲ |
| عمومي مجموعه | | ۱۵۹,۷۳۷ |

### پنځه‌لومړنۍ‌ولسوالۍ‌چې‌روغتیایي‌خانګو ته اړتیا لري (تر ټولو نیږدې کلینیک >۵ کیلومتره لرې)

| درجه بندي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|
| ۱ | آب کمری | ۱۲,۰۹۷ |
| ۲ | مقر | ۹,۵۴۲ |
| ۳ | بالا مرغاب | ۸,۵۳۰ |
| ۴ | قادس | ۸,۱۴۳ |
| ۵ | جوند | ۷,۷۹۳ |
| عمومي مجموعه | | ۴۶,۱۰۵ |


### پنځه لومړنۍ ولسوالۍ چې ښوونځي ته اړتیا لري (تر ټولو نیږدې ښوونځی >۳ کیلومتره لرې)

| درجه بندي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|
| ۱ | قلعه نو | ۱۶,۲۵۵ |
| ۲ | بالا مرغاب | ۸,۳۸۷ |
| ۳ | آب کمری | ۶,۲۸۹ |
| ۴ | مقر | ۵,۷۶۷ |
| ۵ | جوند | ۲,۲۹۸ |
| عمومي مجموعه | | ۳۸,۹۹۶ |

### پنځه لومړنۍ ولسوالۍ چې بازار ته اړتیا لري (تر ټولو نیږدې بازار > ۱۰ کیلومتره لرې)

| درجه بندي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|
| ۱ | آب کمری | ۱۳,۲۲۶ |
| ۲ | قادس | ۱۲,۴۵۳ |
| ۳ | مقر | ۷,۸۵۹ |
| ۴ | جوند | ۴,۲۹۴ |
| ۵ | بالا مرغاب | ۳,۰۹۵ |
| عمومي مجموعه | | ۴۰,۹۲۷ |

تولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + داخلي بېځایه شوي) | پناه ځای | بادغیس




## د یوه بېځایه شوي کیسه

### په تېښته کې

۶۱ کلن تاج محمد د بادغیس ولایت، قادس ولسوالۍ، بابه دوستي کلي اوسېدونکی وه. هغه هلته د ځمکو مالک وه او په خپلو ځمکو کې به یې غنم کرل ترڅو وکولای شي له خپلې کورنۍ څخه ملاتړ وکړي. هغه ډېر ښه او با عزته ژوند درلوده ترڅو چې د هغه په سیمه کې امنیتي وضعیت خراب شو او د هغه په سیمه کې رامنځ ته شوي جګړه د دې لامل شو چې تاج محمد خپله ځمکه له لاسه ورکړي.

کله چې هغه خپله ځمکه له لاسه ورکړه او د هغه په ولسوالۍ کې امنیتي وضعیت مخ په خرابېدو وه نو تاج محمد او د هغه کورنۍ د ۷۴,۰۴۳ کسانو څخه وه چې له بادغیس ولایت څخه ایران ته کډوال شوي دي. هغه او د هغه ۶ کسیزې کورنۍ پرېکړه وکړه چې د ایران له پولې څخه په غیر قانوني توګه واوړي. که څه هم دا سفر ډېر ستونزمن وه. پیاده سفر کول ډېر ستړی کوونکی وه او د پولیسو لخوا د نیول کېدو خطر هم زیات وه. د ایران په لاره کې د هغه لور تر دې حده ناروغه شوه چې په خپلو پښو نشوه تلای او تاج محمد مجبور شو چې هغه ځان سره انتقال کړي.

د ایران په لاره کې پولیسو هغوی ونیول. هغوی تاج محمد ووهه خو د کورنۍ نورو غړو ته یې هېڅ هم ونه وایل. د دربو ورځو وروسته کله چې تاج محمد پولیسو ته پیسې ورکړې هغوی یې خوشې کړل. د افغانستان پولې څخه د ۱۴ ورځو سفر وروسته هغوی بلاخره د ایران اصفحان ښار ته ورسېدل.

وروسته له دې چې هغوی د خپل د موخې سیمې ته ورسېدل تاج محمد یو کور په کرایه ونیوه او خپل لور ته یې درمل واخیستل. څکه چې هغه نورې پیسې نه درلودې د هغه کورنۍ په قرضونو کې ډوبه شوه. دې کورنۍ د پولیسو لخوا د نیول کېدو دار سره په غیر قانوني توګه ایران کې ۱۱ کلونو تېر کړل او وروسته له ۱۱ کلونو افغانستان ته راستانه شوه.

* د یادونې وړ ده چې په دې کیسې کې نوموړه بدل شوي او د سیمې نوم نده یاد شوی ترڅو د هغوی پېژندګلوی خوندې ووسي.



د ۹۳,۱۲۶ نورو راستنېدونکو په شان تاج محمد او د هغه کورنۍ هم په شدیده توګه مرستو ته اړتیا لري.© IOM ۲۰۱۸

International Organization for Migration
Route des Morillons 17
P.O. box 17
Geneva 19 1211
Switzerland

د کډوالۍ نړیوال سازمان (IOM)
کور #۲۷
سړک ۴
د انصاري څلورلاره
شهر نو
کابل، افغانستان

هغه معلومات چې په دې راپور کې کارول شوي د IOM-افغانستان سازمان او د DTM نړیوال ملاتړ ټیم په ګډې همکارۍ راټول شوي دي. هغه مسایل او توکي چې د کار په ترڅ کې کارول شوي په هېڅ بڼه د کوم هېواد قانوني حالت، ملکیت، سیمه او یا هم د هغه د چارواکو او یا مرزونو په هکله د کډوالۍ د نړیوال سازمان له هېڅ نظر یا باورونو پورې اړوند ندي.

د کډوالۍ نړیوال سازمان (© IOM ۲۰۱۸)

د لا زیاتو معلوماتو لپاره او د ډاونلوډ وړ نقشو، ډیټابېسونو، متحرکو نقشو او داشبورډونو ته د لاسرسي لپاره مهرباني وکړئ د DTM-افغانستان انټرنټي پاڼه وګورئ.

www.displacement.iom.int/afghanistan

**مونږ سره په اړیکه کې شئ**

د لا زیاتو معلوماتو لپاره مهرباني وکړئ د DTM ټیم سره په اړیکه کې شئ:

DTMAfghanistan@iom.int

facebook.com/iomafghanistan

twitter.com/iomafghanistan

instagram.com/iomafghanistan

په افغانستان کې د ډي ټي ام مالي ملاتړ کوونکي
Canada
MOFAT
NORWEGIAN MINISTRY OF FOREIGN AFFAIRS
ITALIAN AGENCY FOR DEVELOPMENT COOPERATION
Co-funded by the European Union
په همغږۍ سره